# څنګه لیکوال شم؟

د لیکوالۍ په اړه لنډ کره معلومات



Ketabton.com

لیکوال

عثمان عادل (صافي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځنګه لیکوال شم؟

د لیکوالۍ په اړه لنډ کره معلومات

۲۸\۳\۱۴۰۰
لیکوال
عثمان عادل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوالۍ لپاره باید دغه څو شرطونه په یاد وساتو

لمړی؛که په هره ژبه لیکنه کوو باید د هغې ژبې له ګرامر او قواعدو سره آشنا اوسو

دوهم؛ دا چې د هغې ژبې د لوستونکو په طبیعت وپوهیږو چې هغوی څه ډول لیکل خوښوي ساده پیچلي او که ...

دریم ؛ دا چې د حالاتو مطابق باید لیکل وکړو

څلورم؛ دا چې خپل احساس باید پاک او سپیڅلی کړو

دغه څو شرطونه که مو ذهن کې وساتل ان شاءالله چې تاسو به ډیر ژر لوړ لیکوال شئ

لیکل د شهرت لپاره مه کوه د هدف لپاره یې وکړه که لیکل دې ګټور او موثر وو نو هتمن به شهرت ترلاسه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځنګه ليکل وکړم ؟

په لمړيو کې ليکل له خپلو ورځنيو کارونو، پيښو، او يادښتونو راپيل کړه هر هغه کار چې د ورځې په اوږدو کې کوې هغه وليکه او له ځان سره يې وساته هره اونۍ وروسته يوځل خپل ليکل لوله خپله به درته احساس شي چې څومره خوږې جملې دې يادښت کې راټولې کړي دي

په همدغه ډول مخ ته تګ وکړه په خپله يادښت کتابچه کې راپورونه پيښې وليکه

اوريدلې کيسې وليکه داستانونه وليکه خپله پيژندګلوي وليکه

خپل د خوښې کارونه ،خواږه وليکه

د خپلې خوښې انسانانو په اړه ليکل وکړه

خپل اهداف (موخې) وليکه

دا هرڅه وليکه بيا ورته ادبي رنګ ورکړه

هغه کتابونه ولوله چې پکې د ليکوالۍ رازونه راټول شوي وي

او بلاخره ليکل دې ټولنيزو رسنيو ته پورته کړه که منفي نظريات دې واوريدل نو مه غمجن کيږه همدا دې د بريا په لور لمړی قدم دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه وليکم؟

خپل احساس وليکه ، خپل فکر وليکه ،خپل نظر وليکه
دا فکر مه کوه چې خلک به ستا فکر سره موافق وي که نه
بلکې دا فکر وکړه چې زه مې دا فکر په څه ډول نورو ته ورسوم

د حالاتو مطابق ليکل وکړه لکه چيرته چې ته ژوند کوې که هغه ځای د امنيت له اړخه خراب وي جګړه پکې وي نو
ته د جګړې د ختمولو په اړه فکر وکړه حل لارې يې رابهر کړه هغه وليکه او ترنورو يې ور ورسوه
او که ستاسو سيمه هېواد د امنيت له اړخه غوره وي نو هلته د پرمختګ او نووخت په اړه ليکل وکړه
همدا ليکل غوره ليکل دي چې د نورو د خير لپاره وشي
ته ليکل وکړه په هر حال هر وخت هر ډول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکوالي څه شی ده؟

د خپل احساس او فکر په لیکلي بڼه انځورولو ته لیکوالي وايي
لیکوالي هغه هنر دی چې خلک د لیک په جذابیت دې ته اړ کول
چې هغوی ستا فکر ولولي او ستا له فکر خبر شي

لیکوالي په اصل کې یو خوږ هنر پاک مسلک او ستره وظیفه ده

هنر؛ خو ځکه ده چې لکه څنګه انځورګر د خلکو ظاهري څېره
انځوروي همداسې لیکوال هم د خلکو احساسات او فکرونه په
لیکلي بڼه انځوروي بلکې دا هنر د انځورګر له هنر ډیر لوړ دی

مسلک؛ بیا ځکه ده چې یو عام انسان هېڅکله نشي کولای د نورو
احساسات ولیکي مګر لیکوال یې ځکه کولای شي چې رب یې
استعداد ورکړی وي او همدا مسلک او تګلاره ده

ستره وظیفه؛ هم ددې په خاطر ده چې په دې کې یوه نړۍ مسؤلیت
باید لیکوال په غاړه ولري او هغه دا چې د ټولنې هره ستونزه کمي
او زیاتی په حقیقي تورو ولیکي او نه له چا وویرېږي نه د چا
غلامي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ريښتيني ليکوال صفت څه شی دی؟

د ريښتيني ليکوال صفات په لاندې ډول دي

لمړی؛ حقپرست هرڅه چې حق وي هغه به يې په ليکنو کې هتمن شامل وي.

دوهم؛ سپيناوی د هرې خبرې سپيناوی به يې په درست ډول کړی وي .

دريم ؛ دوه مخي به يې هيڅ عدت نه وي او نه به يې په ليکنو کې دوه مخي ترنظره شي .

څلورم؛جرءعت له هيچا به نه ويريږي او نه له چا شرميږي بس چې څه ته حنګه اړتيا وي هماغسې به يې ليکي .

پنځم؛سپيڅلتيا بدنيته، بدخويه ، او بد مزاجه به نه وي احساس او فکر به يې دواړه سپيڅلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ليکوالۍ هنر لپاره بايد څه وکړو؟

د ليکوالۍ هنر لپاره بايد اوليت مطالعې ته ورکړو بايد ډير هغه کتابونه مطالعه کړو چې په هغې کې د ليکوالي په اړه ليکنې شوې وي، د ليکوالي مهارتونه پکې ذکر شوې وي .

او د هغو خلکو خبرې واوريدل شي چې د ليکوالي په اړه خبرې کوي او تجربه ولري.

له هغو خلکو سره ناسته ولاړه وکړه چې ليکوال وي او شوق يې لري .

تل ليکل کوه او د خپل ژوند پيښې او يادښتونه ليکه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکوالي څه اهمیت لري؟

لیکوالي او لیکوال د ټولنې د روح په حیث دي که یو لیکوال په ریښتینې بڼه د ټولنې لپاره لیکل وکړي نو مړه ټولنه بیرته راژوندۍ کولای شي ، مګر که همدغه لیکوال غلط افکار ولیکي او ټولنه کې یې خپاره کړي نو ممکنه ده چې یوه ژوندۍ ټولنه د جهل په خوب ویده کړي .

یو لیکوال سل زره ځوانان په خپلو لیکنو د همت او غیرت میدان ته په خپلو جادویي لیکنو راکاږلی شي ، نو فکر وکړئ چې همدغه لیکوال څومره ځوانان د غفلت په خوب ویده کولای شي

اوس هم ډیری لیکوالان داسې ناولونه او کیسې لیکي او خپروي یې چې هغه په اصل کې د ټولنې ځوانانو ته لکه د زهرجن مار په څیر دي

ځوانانو ته عشق او عاشقي لکه یو سپیڅلی عمل معرفي کوي کیسه داسې د هوس په رنګ کې رنګوي چې شهوت ورته مینه ښکاره کړي ځان وژنه ورته غیرت او فساد ورته محبت معرفي کړي

داسې لیکوالان په اصل کې د ټولنې لپاره لکه زهرجن مار داسې مثال لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر ځینې داسې لیکوالان هم شته چې ددې ټولنې د ځوانانو ریښتینې فکر او غم ورسره شته هغوی تل په دې هڅه کې دي چې په څه ډول خپلو غافلو ځوانانو ته بیرته حپل برم عزت او جلال ورښکاره کړي داسې لیکوالان دې لا ډیر شي او په ګوتو دې رب برکت کړي دوی دي چې لا دا ټولنه ژوندۍ ده دوی دي چې لا دلته د اسلام نوم او برم تازه ده

که دوی نه وای نو ممکن اوس به دلته د اسلام نوم نه وو او دا ټولنه به هم لکه د نورو ټولنو په څېر د غفلت یو مرکز جوړ وو

راځې هغه لیکوالان لا تشویق او وهڅوو څوک چې په ریښتینې ډول غواړي دې ټولنې او خلکو ته خدمت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څنګه حقيقي ليکوال شم؟

د حقيقي ليکوال جوړيدو لپاره دغه لاندې څو خبرې هتمن زده کړه

لمړی : خپل فکر دې ازاد کړه ځکه دا د ليکوالي لمړی شرط دی ګل پاچا الفت صيب پخپل د (ليکوالي) کتاب کې ليکي چې که ليکوال له فکري اړخه د چا تر تاثير لاندې وي نو د هغه ليکنې به هم د غلامۍ په زنځير تړلې وي

نو له هرڅه وړاندې د يو حقيقي ليکوال لپاره فکري ازادي اړينه ده ترڅو ليکنې يې هم ازاده او پاکې وي .


دوهم: دا چې بايد يو حقيقي ليکوال د حق ليکلو جرءعت ولري هغه څه چې حق وي بايد يې وليکي که هغه د ليکوال خپل يا د کورنۍ خلاف ولې نه وي .

دريم : دا چې ليکوال بايد د ټولنې درد کمي له هرچا وړاندې په ښه ډول درک کړي او د هغې لپاره لاس په کار شي ځکه ليکوال خو د ټولنې روح او زړه دی.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څنګه لیکوال شم؟** **لیکوال : عثمان عادل (صافی)**



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**